ډاکټرشیر آقا حرکت ۲۰۱۲/۰۳/۱۴

# دبی بنیاده سرمايي، بی قانونه لیږد، د عامه شتمنیو لوټول دي!

فلسفی بحث مارچ ۲۰۱۲

ټول مادي خلقتونه او مادي نعمات دالا هي مقضي ارادی له مخی يو تر بله سره په متناسب او مکفي اندازه او پيمانه د هر چا د ضرورت ،خصوصياتو او غوښتنو سره سم د معقولی او منطقي استفادی لپاره وجود لري او د اشخاصو، ټولنو او حکومتونو بی ځایه او نامعقول تصرف، بُخل او اسراف په کی ناروا او په هر څه خیټه اچول قاروني بد صفت ګڼل شوی اوپه بده سترګه ورته کتل شوی دی.

مادي نعمات د الاهي غني پيرزوينی، عام خلقتي ضرورتونو او ټولنيز توليد او شتمنی په توګه، هيڅکله خصوصي تعلقات او ملکيت نه شي منلی او نه دچا دحرص له مخی په هر څه خيټه اچولو ته، نه ځای شته، نه دليل او نه ضرورت، ځکه چی خدايي غني نعمات او پيرزوينه خلقت شموله، لا يتناهي او پای نه لري او ځکه خو خصوصي ملکيت او تعلقات هم نه مني او نه ورته ضرورت ليدل کيږي. خدايي نعمات بايد د خدا يي عدل، انصاف او پيرزوينی له مخی په ټولو مخلوقاتو مساويانه او متناسب وويشل شي او کله، چی دغه زيرمی خصوصي تعلقات پيدا کوي، په ويش کی يي، هيڅکله الاهي عدل، انصاف او پيرزوينه نه شي مراعات کيدلي او العياذ با لله الاهي صفات او الاهي رحم وکرم، دانساني حرص، بی پيرزويني، تنګنظرۍ او حسادت تابع ګرځي اوخورا بد انسانان به د الاهي قايم مقام په حيث د ټول بشريت او مخلوقاتو سر نوشت ټاکي. حال داچی ددی جهان ټول خلقتونه او مادي نعمات د الاهي لوی علم له مخی متقابلاً او مستلزماً مکفي پيدا شوي او يواځی دالله د لوی علم او مقضي ارادي امکاناتو او عامه پيرزوينی په وسعت نظرسره ،کيدلی شي بشريت ته د هر اړخيز ذهني او جسمي پرمختيا او تکامل ختِه برابره شي او دالاهي پيرزوينی او لايتناهي امکاناتو په بنياد لا اقل د انساني مقدراتو په کچه بلا تشبيه دخپلی خوښی جنت نما دنياګۍ جوړه شي .انساني مقدرات که فردي دي او که ټولنيز خورا محدوددي او په هيڅ وجهه او ټولو نهايي امکاناتو سره هم هيڅکله د الاهي مقضي ارادی او علم جوګه نه شي ګڼل کيدلی او نه بشري علم پوهه او درک دلوی جهان او حتا زمونږ د کوچنی نړۍ د ټولو خلقتونو په قانونمنديو محاط ګڼل کيدی شي او نه يي د افادی قابليت لرلی شي. نو ځکه مونږ په قاطعيت سره ويلی شو، الاهي خلقتونه چی د الاهي لوی علم د قانونمنديو له مخی قانونمند پيدادي، نه يواځی انساني، بلکه د ټولو الاهي مخلوقاتو عامه شتمني ده او هيڅکله خصوصي ملکيت اوتعلقات په ځان نه شي منلی. دا لوی جهان، ټول خلقتونه او مادي نعمات الاهي پيرزوينه، رحم اوکرم اود عامه بشري شتمنۍ په حيث يواځی په ټول بشريت پوری اړه لري. په دی جهان کی ځمکه، اوبه، هوا، نبات، حيوان، انسان او نور موجودات او حتا د نبات يوه کوچنۍ پاڼه هم، چی دالاهي علم له مخی قانونمند پيدادي، يواځی د همدغه الاهي علم له مخی متناسب او متوازن قانونمند بدلون او تکامل موندلی شي .انساني مداخلی، چی د بی شميره نيمګړتياوو، تحريفاتو، ځان غوښتنو، حرص او شخصي نفساني خواهشاتو او غوښتنو څخه متأثری دي ،د خلقتونو او موجوداتو د پيدايښت پايښت او تکامل تناسب او توازن به له منځه وړي او طبعاً به د موادو په کمي او کيفي ترکيب کی تناقصات او تناقضات رامنځته کيږي. نو دغه حريص او خورا بد انسانان چی په زرونو او مليونونو انسانان يي دهغوۍ د شتمنيو د غصب په خاطر وژلي او په راتلونکي کی به لا نور هم قوت پيدا کوي،که چيری د الاهي نظام تکويني او تکاملي پروسی د هغوۍ د حرص او نفسي غوښتنو څخه متأثری کيږي، څه ډول به د الاهي عدل ،انصاف او عامه پيرزوينی څخه ، چی دالاهي رحم وکرم مظاهرګڼل کيږي، نماينده ګي وکړي؟ شک نه شته، هغه شتمنۍ چی دانساني فهم ،درک او مقدراتو په امکاناتو سره، د ځانګړي زيار او زحمت محصول دی، دشخصي ملکيت په حيث د هر ډول تعرض او تيري څخه مصئون اومبرا دي او شخصي تصرف په کی جايز ګڼل کيږي.

خصوصي سرمايه هيڅکله حقيقي او رښتيني ارزش نه وو او نه کله اشخاصو دغه ډول بی حسابه توری سرمايي په رښتينولۍ او صداقت تر لاسه کړی شوی دي. هره ذخيره شوی سر مايه په حقيقت کی، تل د ناروا پديدي په حيث، په ناروا د ناروا مقاصدو او اهدافو لپاره په کار اچول شوی او د راتلونکي لپاره يي هم پلانونه لا ډير غير انساني او وحشيانه بريښي. ډير خلک داسی فکر کوي، چی ګوندی سرمايه د ژوند د بقاء او خوشبختۍ وسيله ده. په همدی دليل ځيني کسان هڅه کوي په اصطلاح دخپل ژوندبقاء او خوشبختي د مليونو انسانانود ډلئيزو وژنو اود شتمنيود غصبولو په واسطه تضمين کړي، او دا اصل په پام کی نه نيسي، چی ټول انسانان د خپل چاپريال په ساتنه او استفاده کی يو شان حقوق، وجايب او مسئوليتونه لري او سرمايه نه يواځی چا ته د ژوند او خوشبختۍ ضامن نه شي ګرځيدلی، بلکه اکثر وخت دانسانانو د مرګ عامل او سبب هم ګرځي. دمخه مونږ دا خبره هم وکړه، همغسی چی داجهان متقابلاً او مستلزماً مکفي پيدا دی، د ذری په اندازه په خپل جوړښت کی زياتوالی او کموالی هم نه شي منلی، يعنی هر انسان او هر بل مخلوق نه کم او نه زيات د خپلو مقدراتو په اندازه د استفادی وړ چاپيريال او دنعماتو زير مي


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لري او د ذرى په اندازه د خير و شر اجنبي تصرف او تجاوز په كى جايز نه ګڼل كيږي. په دى خاطر د نورو د حقوقو د غصبولو په بى بنياده بهانه خپل راتلونكى ژوند او خوشبختي تضمينول ، دنورو مخلوقاتو د ټولو حقوقو د غصبولو او لوټولو په معنا دي. هره ذخيره د خپلو مقدراتو په هغه ابعادو كى جايز ده، تر كومه ځايه، چى د بل په حقوقو تعرض نه وي شوى، حال داچي دوئ دنورود ټولو حقوق غصبولو په خاطر د مليونو انسانانو ژوندهم ورڅخه اخلي. اصلي پوښتنه داده، په كوم حق او دليل دوئ دغه ناروا او غير نساني اعمال سرته رسوي؟ دوئ دي، چى په زرونو او لسګونه زره كيلو متره ليرى د ځانونو لپاره د امن ساحى غواړي، دوئ دي، چى په غلا او جبر پردئ شتمنى ورڅخه اخلي، دوئ دي، چى هيڅ ډول بين المللى منل شوو او د دوئ له خوا وضع شوو قوانينو ته غاړه نه ږدي. ايا يواځى انسان او با لخصوص دغه څو كسان دي، چى ددغه ډول نورو موجوداتو په نسبت زيات امكانات او وسايل په واک كى لري ،نه يواځى خپل ځان او هغه هم نه د لنډى مودى لپاره، بلكه خپل ټول كهول او ټبر د ټول عمر لپاره بايدبيمه كړي او حق لري، زرګونه كيلومتره ليرى پردئ سيمي او ملكونه، د خپل امن دساحو او يا نورو رنګارنګ نومونو په پلمه په خپل واک كى وساتي او حتا د همغه ملكونو په ځمكني او هوايي تګ او راتګ باندى قطعي بنديزونه ولګوي او يا لا اقل په خپل واک كى يي وساتي. دا خبره همغى ته ورته ده ،چى هوسئ د زمري څخه لر په سيند كى اوبه څښلى ، زمري ورته ويلي وو، څله ماته اوبه خړوى او په دى بهانه يي پرى حمله كړى وه.
دافغانانو اولادونه كه كه په شپو شپو هم نهار ويده شي نژدى ګاونډى يي پرى نه خبريږي، خو شته او دولت ددى لپاره غواړي ،چى ديره او حجره وچلوي او پراخه موړ دسترخوان ولري . افغانان اولادونه ، څاروي او پټى يو شان او په يوه نامه مال بولي او پرته له تفكيک څخه يي يو شان د وطن او ناموس دساتنى په لار كى قربانوي .
رحمان با با وايي :

**ددلبرو صدقى لره يي غواړم *** داسى نه، چى په دولت پسى زهير يم**
**قناعت مى تر خرقى لاندى اطلس دى ***پټ ددرست جهان پاچا ظاهر ګدا يم**

**خوشال با با وايي:**
**چى يي ته په خيټه وخورى حبطه شي *** د مجلس سره چى خوړ شي خوان هغه**

**خود سرمايي د ليونيانو سترګى رښتيا هم، چى قناعت نه شي لرلى يواځى دګور خاورى مړولى شي.**
بشري ټولنو ،چى په لومړيو وختونوكى يو له بله جدا ، د ځانګړو كورنيو په بڼه وجود درلود ، مال ، دولت او توليد يي شريک او د نعماتو ويش ، دكورنيو د غړو تر منځ مساويانه ، عادلانه او منصفانه وو . خو دا چى د نفوسو زياتوالى او د علم ،تخنيک او دكار دتخنيكي وسايلو پرمختګ متوازن او متناسب نه وو ، نو دخوراكي موادو د كموالي او يا نشتوالى په نسبت پخپله د لويوكورنيو د غړو او يا د ګاونډيو لويو كورنيو او طايفو تر منځ د حسادتونو او دښمنيو له مخى ذات البيني شخړى او جنګونه منځته راغلل، زورورو د كمزوروجايدادونه غصب او د كورنيو غړي يي غلامان او په جبري شاقه كارونو وګمارل. له همدغه مرحلى څخه د بادار او غلام ، فيو دال او دهقان ، سرمايدار او كار ګر او يا په كل كى د دارا او نادار نظامونه او طبقات په دښمنانه تقابل كى جوړ شول. د سرمايداري نظام دنسبي پرمختګ سره په ټولنه كى د عادلانه مناسباتو د ټينګيدو لپاره لازمي او كافي شرايطو وجود درلوداو ممكنه وه د عادلانه نظامونو بنيادونه په عادلانه مناسباتو سره وتړل شي .د علم ،تخنيک او صنعت كافي پرمختګ ددى جوګه وو، چى د بشري ټولنى د ضرورت وړ كافي مواد توليد او په همدغه بنياد په ټولنه كى منصفانه قانوني ـ حقوقي سولئيز مناسبات ټينګ او دعادلانه توليد او ويش نظام ، په پښو ودروي او په بشري ټولنه كى د جنګونو له وقوع څخه د تل لپاره مخنيوى وكړي . خو د هغه چا،چى د سرمايي په ګوړه خوله خوږه شوى وه ، دسرمايداري حكومتونو سره په تباني كى دهر ډول زور او صلاحيت څخه هم برخوردراه وو، نه يي غوښتل د زور او صلاحيت له موقف څخه راښكته شي، خصوصاً، هغه وخت چى اروپايي سرمايداري هيوادونو امريكا، اسيا، افريقا او لاتين امريكايي ملكونه دخپل حاكميت لاندى راوستل، ټولى شتمنئ يي ترى غصب او هغه څه چى د انتقال وړ وو، خپلو ملكونو ته انتقال اود ټولى نړئ بشري قوه غلامانه د دوئ په خدمت كى وګمارل شوه، چا به له دغه موقف څخه راښكته او چا به عدل او انصاف ته مجبوره كړي واى ؟ دوئ په هر ډول خود خواهانه او خاينانه بدعتونو، چى له لاسه يي پوره وو، صرفه نه كوله او هغه څه چى دوئ تصاحب كړي وو، خپله شخصي شتمني ګڼله. حال داچى عامه لاسته راوړنى عامه شتمنئ او شريک ټولنيزجايداد ګڼل كيږي او دوئ ،چى په دغه مال او شتمنئ په نارواخيټه اچولى وه، په كبيره او صغيره ګناهونومحكوم او د جزا سزاوار د ي.
همغسى چى په افغانستان كى د وروستيو پيښو جنګي جانيان، د بشر د حقوقو ناقضين او « بيګناه مجرمان »،
ددى په خاطر چى محاكمه نه شي، واک پريښودلو ته نه حاضريږي او په همدغه خاطر خپل ناروا حاكميت د ناروا نا مقدس اتحاد په قوت ساتل غواړي او له خپل يابو څخه د ښكته كيدو نه دي، نړيواله سرمايداري مافيا هم په هيڅ قيمت حاضره نه ده خپلى غصب كړى سرمايي او ناروا حاكميت له لاسه وركړي.
دمخه مونږ وويل، چى مادي نعمات الاهي رحم وكرم او دټولو لپاره يوشان ټولنيزه شتمني ده او خصوصي ملكيت او واک هيڅكله پر ځان نه شي منلى او بايد د ټولنى د مختلفو طبقو، قشرونو، ډلو ټپلو او افرادو تر منځ عادلانه، منصفانه


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همكارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكني د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رااليږلو مخكې په ځير و لولئ

او په متناسب ډول وویشل شي. دسرمایي لیونیان برعلاوه ددی چی دغه ډول شرایطو ته غاړه نه ږدی او دکار دشرایطو د اسانتیا ، دکار د وخت د کموالی، د کار داجوری د زیاتوالی او نورو امتیازاتو کی بهبود نه راولي، برخلاف د استثمار زولنی او شرایط ورځ په ورځ درنیږي او په اصطلاح مفت خواره باید په رنځ، درد او ولږه سره د مرگ تر سلگۍ هغه وگالي، حال دا، چی اصلي مفت خواره او پارازیت خو همدوی دي، چی د استثمار کچه او دفقر مړښت تر منځ تناسب یي هر کال حد اقل د اعشاري ارقامو په تناسب لوړیږي. د پیام افغان تلویزون د مړښت او فقر تناسب څه موده دمخه دا ډول اعلان کړی وو: په ۱۸۳۰م کال کی ۳: ۱، په ۱۹۵۰م کال کی ۳۰ :۱ ¸ په ۲۰۰۰ م کال ۷۵ : ۱ او په راتلونکي کی دغه تناسب یواځی ۱۰۰۰ : مرگ جوړیدلی شي.
محترم لوستونکي ننني اقتصادي بحراني وضعه او شرایط پخپله تخمینولی شي، چی څه ډول د بی شمیره مالیو، بیمو او ډول ډول نورو لارو چارو په وسیله یي تری یوه مړی ډوډۍ اواوبه خو اخیستي دي او هغه ورځ هم لیری نه ده ،چی دهوا د تنفس په خاطر یي مړۍ هم ور وتړي. زه داروپا او امریکا خلک یادوم، چی په اصطلاح په خپل عالي شعور، پوهه، دیموکراسۍ او ډول ډول نورومتقابلو برابرو بشري سوسیال دموکراتیکو حقوقو او وجایبو سره په دغه ډول مضیقه کی شپی ورځی تیروي او لکه د مسمریسم شوو موږکانو غوندی د مار د گوزار انتظار باسي.
ما دمخه په دی باره کی هم ډیر بحثونه کړي، چی په دی جها ن « اُنیورسیوم » کی خو لاڅه ،چی زمونږ په دی کوچنۍ نړۍ کی هم د هیڅ شي کمبودي نه شته، دمخه می هم دالاهي رحم وکرم او عامه پیرزوینی او وفور دنعماتو یادونه وکړه، ربښتیا هم، چی په دی نړۍ کی د هیڅ ډول نعماتو کمبودي وجود نه لري، کمبودي اصلاً ددوی په ذهن، ددوی په وجدان، ددوی په قضاوت، ددوی په اخلاقو، تربیه، . . .، چی نه شي زغملی خپل حق حقدار ته وسپاري او حقدار هم توری بلا وهلي ،او خپل حق نه شي غوښتلی.
د سرمایو لیونیان ټول ارزشونه د خپلو ناچله پیسو په ارزش ارزوي او په دی نه پوهیږي، چی هر ارزش لکه مینه، محبت، شرف، عزت، آبرو، وجدان، وطن، ناموس، پت، حیا، علم، پوهه او ډیر نور ارزشونه، نه په پیسو خرڅیدلی او نه اخستل کیدلی شي. ارزشونه کیدی شي یواځی په بالمثل ارز ش بدل شي. څه موده پخوا یوه امریکایي ملیونر د تلویزیون له لاری اعلان کړ ی وو، چی که هغه ته څوک خپله ښځه ولیږي، دی به یو ملیون ډالر ورکړي. د سل زره څخه زیات کسان حاضر شوي وو، چی دغه شرط ومني. حال داچی په افغانستان کی د ناموس د پت او عزت د ساتلو په خاطر خلک خپل سرونه قربانوي. لکن په غرب کی ټول ارزشونه دپیسو په خاطر بی ارزشه او قربانیږي. ژوند د همدغه ارزشونو په خاطر ارزش لري او نه یواځی باشعوره انسان، حتا حیوانات، پرنده گان، خزندی او نور موجودات دډیرو ارزشونو په ارزش د پلرنۍ، مورنۍ، سیمي او خپلوۍد میني او محبت احساس لري او دخپل ټاټوبي څخه دفاع کوي. د همدغه ډول ژور احساس، میني او محبت لرونکي متعهد انسانان دي، چی تر اخریني سلگۍ او اخرین څاڅکي د ویني پوری د دفاع په سنگر کی پاتیږي او په ربښتینولۍ سره د ټولو تعهداتو څخه دفاع کوي. هغه کسان، چی د پیسو په مقابل کی، چی د ژوند وسیله ده، د وطن دفاع کوي، کله چی ژوند په خطر کی واقع کیږي، پیسي بیا ارزش نه لري او دا ډول کسان حتماً خپل سنگرونه خوشی کوي. په افغانستان کی تر نن ورځی پوری دستور دادی، چی هر څوک د خپل سنگر په ځنگ کی خپل قبر هم کني او یو دبل له غیرت څخه هم خپل سنگر نه پریږدي او مونږ عملاً ددی شاهد یو، یو کم تعداد افغانان چی د ټولی نړۍ د سترو قوتونو په مقابل کی جنگیږي، خارجي قوتونو ونه شو کولی دهغوی مقاومت مات کړي او اوس وتلو ته مجبور شویدي .په غربي نړۍ کی، څرنگه چی ټول ارزشونه د پیسو په مقابل کی خرڅیږي او اخستل کیږي، نو هغه کسان، چی د پیسو د پیداکولو په خاطر په وظیفي، مقام، چوکۍ پسی گرځي، حاضر دی له خپل هرډول ارزش څخه د دغه مقام، وظیفی او چوکۍ په مقابل کی تیر او هره پستي عملاً په خپل ځان تجربه کړي او حتا خپل ملي ، وطني او اولسي ارزشونه د پیسو په بدل کی خرڅ کړي .دوۍ حتا، ددی په خاطر، چی یوه مقام ته د کاندیدو په وخت کی د رایو اکثریت وگټي، دانساني اخلاقو او کراماتو څخه، چی حیوانات هم پری شرمیږي، یعنی هوموسکسوالیيزم څخه هم ډډه نه کوي. دوۍ، چی د پیسو دپیداکولو په خاطر په داسی بی ننگۍ سره مقام او وظیفه تر لاسه کوي، په کوم ننگ به ملي، وطني او اولسي ننگ، عزت او شرافت وساتي؟
پخوا په افغاني ټولنه کی دغه ډول بی ننگه کسان هیڅکله نه په سترگو کیدل او یواځی کله نا کله په کوم لیوني کس به د جاسوس او مخبر شک کیده، خو دنړیوالو قوتونو په راتگ سره، دجمهوري ریاست له دفتر څخه نیولی تر وزارتونو، پارلمان او بل هردفتر کی د جاسوسانو او خاینانو دټیل ناټیل په سبب عبور ومرور مشکل شویدی او هر څوک دپارلما ن د تریبیون او همداسی دخپل اداري مقام له موقف څخه، دنورو هیوادونو په جاسوسي ارگانونو پوری د تړلتیا او پټ او ښکاره کومکونو په ترلاسه کولو د جمعي رسنیو له لاری په بی شرمانه جرئت سره اعترافونه کوي. نن هغه وخت هم نه دی رارسیدلی او عیني او ذهني شرایط د پوخوالي هغه کچی ته نه دي رسیدلي، چی ددی نړۍ نژدی ۲۰۰ لوی اووړو هیوادونوننني غیر مجانس او غیر عادلانه میخانیکي تجمع څخه یو عادلانه او منصفانه انتر ناسیونالیزم، فدرالیزم او یا سراسري نړیوال واحد حکومت او دولت جوړ شي. طبعاً ددغه نړیوال ارگانیک انتگریشن او اداري، قانوني، حقوقوي او اقتصادي گلوبالایزیشن د قوام او عادلانه منصفانه نظام د جوړښت او خصوصاً انساني ذهني امادگۍ لپاره لا لوی زماني بعد په مخکی پروت دی.


افغان جرمن آنلاین په درښت ناسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

تیر تاریخ هم ددی شاهد دی، چی دوی د خپلو سرمایو د تجمع په خاطر له هیڅ ډول انساني ،حیواني او ډول ډول نورو موجوداتو د نسل کشی ،قتل عام او تباهی څخه ډډه نه ده کړی او دغوبنی، هډوکي، پوټکي، وړی اوپه نورو بهانو او پلمو سره یي له منځه وړی او نن یي د نسلونو د بقااو وراثت دتسلسل دتړلو په خاطرنښی نښانی نه په سترګو کیږي.
همدوی دي، چی د بی مفهومه سرمایو د تجمع په خاطر یي د بشري ټولنو تر منځ همیشنی انتاګونیزم او دښمنانه تقابل رامنځته کړی او وررور دورور او پلار د ځوی په مقابل کی یي په نه پخلاکیدونکي تضادونو کی سره کښینولي دي .
همدا نن د نړۍ نیم نفوس د ډیر مړښت او نیم نور له ډیری ولږی او په کل کی ټول ددغه تضادونو او دښمنیو قرباني دي، رنځ او دردونه ګالي او مري اوهمدا بیګاه شپه ( ۹ دمارچ ۲۰۱۲، م کال ) د افریقی له یوی سیمي څخه د ۹ ملیونو انسانانو د تورو هډوکو یو ګدام ، چی غني ملکونه لري، د مرګ په حال یو دبل له پاسه پراته وو او خپلی اخري سلګۍ ته یي انتظار ګاږه، وښوده او پرته له دی چی کوم چا پری د خپلی برترۍ نمایش جوړ کړی اوسي او یا بل چا دنیاوالوته د زړه سوی پرلپسی کومه بله احساساتي صحنه ترسیم کړی وي، د بی احساسو په دی بدرنګه نړۍ کی، نوره څه ګټه لرلی شي؟
هو! یواځی ټولنیز عدالت او انصاف او شعوري منطقي کړه وړه، د ۲۱ پیړۍ په دی هر اړخیزه امکاناتو سره، مظلوم انسان ته نجات ور کولی شي او په نړیواله کچه د سولئیز ګډ ژوند دشرایطو د برابریدو ضامن کیدلی شي. زه نه پوهیږم، ددغه عالي انساني ارمان د سرته رسیدو په لار کی کوم مانع وجود لري، چی هم عام مشکل حل شي او هم هر سړی په دغه نظام کی دشخصیت، صلاحیت او مسئولیت خاوند او دټولو لپاره دیوه با صلاحیته او با کفایته منلي نظام او حاکمیت لاندی د عامه خیر ښیګڼو په خاطر صادقانه کار وکړي او په مشترک تفاهم، تعاون او مکلفیت سره ټولی چاری سرته ورسوي، او ټول انسانان یو تر بله سره د ورورۍ، دوستۍ او خواخوږۍ احساس او پیژوینه ولري.
مونږ دا منلي شو، چی:
١) هر هیواد او اولس دی د خپل لویوالي او کوچنیوالي او استعدادونو په تناسب حقوق ، وجایب او مسئولیتونه ولري ؛
٢ ) دهر چا د استفادی کچه، کمیت او کیفیت هم دهرچا دمقدراتو، پوهی او استعداد په تناسب فرق ولرلی شي ؛
٣ ) همغسی چی هر څوک د کار او زیار حق لري ، مناسب خوراک او څښاک هم الاهي پیرزوینه ده او د هر چا د ضرورت په اندازه یي هر انسان مستحق ګڼل کیږي ؛
۴)هر امتیاز هر چاته، یواځی د ټولیزو ښیګڼو او احسان په بدل کی په ټولیزه اراده سره ورکول کیدلی شي؛
۵ ) ځانګړي امتیازات په ځانګړي ډول ،هیچاته د هیچا له خوا ، د منلو وړ نه دي ؛
۶ )هیڅوک حق نه لري ځان ته د انسان او
نورو ته د حیوان په سترګه وګوري اوپه شاقه خدمت او بیګار دی مکلف او مؤظف و ګڼي.
زه په هغه لارو چارو ،چی دوی پری تر اوسه پوری په ناروا خپلی سرمایي ډیری کړي او ساتلی دي ،بحث نه کوم ، ځکه دغه ظلمونه او ناروا کومه پټه خبره نه ده ،خو د سرمایو دغه لیونیانو ته حتماً دا ویل غواړم ،چی د نن ورځی شرایط د پرون په څیر نه دي او نه دنن ورځی انسان د پرون ورځی په شرایطو ژوند کول منلی شي. ارتباطي او اطلاعاتي وسایلو او وسایطو ، اولسونه ډیر سره نژدی او په مساوي موقف کی درولي او تضادونو او مخالفتونو د هری ټولنی دننه په تارو پودکی قوام پیدا کړی او دهری کورنۍ د دروازی تر شا په لومړۍ درجه احضاراتو سره انتظار باسي اوهره ټولنه به لکه د هالیند دهیواد په څیر د مدوجزر په یوه څپه د اوبو لاندی کیږي اواوسنی نړیوال غیر عادلانه نظم به هم همزمان لحظوي تعادل پیداکوي .ددغه زلزلی د اپي سنټر (مرکز) تشخیص به هم مشکل وي ، فکر کوم نور د بی مفهومه سرمایومتمر کزه ډیرولو او ساتلو لپاره نه فرصت شته او نه ضرو رت. دا عامه لاسته راوړنه ده اودهرچا دکار د استعداد په تناسب باید عام تعلق او مناسبت پیدا کړي . که انساني استعدادونه ددی جوګه وی، د همدغه سرمایداري نظام په نسبي پرمختیا سره به دغه مشکل الاهي قانونمندیو ته په مراجعه سره حل شوی وای. زیات ګمان او عقیده په دی ده، چی انسان دتل لپاره د خپل نفس د حرص او لویي غوښتنی د تر نګړ بندیوان پاتی شي، ځکه د الاهي قوانینو عام ارګانیک انتګرالي تداخلي پوهه او درک هم اسان کار نه دی، تر ټولو اسانه لار ماته دا ښکار ي، چی بشریت الاهي رضا او قضا، الاهي احکامو، اوامرو، هدایاتو او عدل او انصاف ته مراجعه وکړي.
موجوده حقایق او واقعیتونه ددی ګواه دي ، چی سرمایداري نړۍ حاضره نه ده د سرمایداري نظام عمده تضادونو ته د حل لار ولټوي. هغوی تل هڅه کوي د خپل حاکمیت دبقاء په خاطر دهیڅ ډول خاینانه او وحشیانه دسیسو څخه هم ډډه ونه کړي. په دی وروستیو کی دوی هڅه کوي بشري تاریخي تکاملي بهیر په ټپه ودروي اویا په خپله خوښه هغی ته تغیر ورکړي، په دواړو حالاتو کی دا به په اصطلاح دتاریخي جبر، خوزما په آند د الاهي مقضي ارادی او قضایي جبر په مقابل کی د جاهلانه او کورکورانه بغاوت کولو په معناوي. دوی په حقایقو باندی د سترګو پټولو په خاطر تل علمي تیورۍ او قانونمندۍ تحریفوي، خو دا کرت یي نه بخښونکي بدعت ته ملا تړلی او هغه داچی غواړي په خپلو کاذبو مهارتونو او صلاحیتونوسره لومړی، سرمایداري نظام د بنیادي مادي ارزشونو، یعنی کارګري دوران جوړوونکی طبقی او متوازن علمي تخنیکي پرمختګ څخه بی نیازه او بی محتوااو وروسته د انحصاري تولیدي پروسی، سراسري نړیوالو او موضیعي جنګونو او دتورو بی بنیاده سرمایو د اکسپورت له لاری ټول نړیوال د بی شمیره ډول ډول بحرانو نو له لاری په خپل کنترول او بیرحمانه جبري قیوداتو کی وساتي.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دوی دخپلو ګټود حراست او دنورو د شتمنیو د غصب په خاطرد هر ډول دسایسو او لاروچارو څخه لکه د نورو کسانو په تجارتي مالونو تعزیرات لګول، بانکي حسابونه کنګل کول او خپل مالونه د ازاد بازار د شرایطو په بهانه ،زور ،جبر او نیرنګونو سره له ګمرکي محصولاتو بچ کول اونور دا ډول مسایل ددوی لپاره معموله او عادي خبره ده، چی دامریکا او چین تر منځ مخالفتونه په همدغه مسایلو همیشه دوام لري او وردزبان مسئله ګڼل کیږي .حال داچی دا ډول انساني بدعتونه په ملي او بین المللي مناسباتو، قوانینو، اصولو او مقرراتو کی نړیوال نظم له منځه وړي او په مقابل کی یي جبران او کفاره لازمي او حتمي شرط ګڼل کیږي . خو له بده مرغه دغه جبران او کفاری ته نه څوک مجبور کړی شوي او نه چا ورته غاړه ایښي ده، بلکه ددغه عملونو عاملینو تل هڅه کړی دخپلو صغیره ګناهونو کفاری په کبیره ګناهونو سره په اصطلاح تلا في او جبیره او دپخوا په څیرپه خپل تجاهل العارفانه جهالت سره خپلو نارواوو او خیانتونو ته لا په لوړهندسي پارابولیک تصاعد سره، دخپل حرص او نفس د بندیوان په څیر، جبراً د زوال د عطف د ګړنګ په لور ځغلي. دوی خپله اراده، عقل، فهم، درک، شعور، حواس او نور هرڅه له لاسه ورکړي، په حقه د حوادثو په جال کی ګروګان پاتی دي او په دغه متلاطم طوفاني سمندرکی «که هرڅو دوی غواړي ګرګه پریږدي، اوس ګرګه د دوی د خوشی کولو نیت نه لري »او حتماًبه یي د نابودی د تامبیړ «صخره» سره تمبوي.

نن چی کومی عظیمي توری سرمایي راټولی شوي او په ټوله نړی کی یي ناوړه تکاثف، عطالت او بی عدالتي را منځته کړی، ټول ددغه نظام د بی شمیره قانون شکنیو، نارواوو، بی قانونیو، چور، چپاول، غلا اوداسی نوروغیر انساني اعمالو، چی قلم یي له لیکلو څخه عاجز دی، محصله ده او اوس، چی دوی کال په کال غواړي دغه عظیمي سرمایي دوه او دری چنده زیاتی کړي،دسلیم عقل خاوندان ددغه محاسبو سنجش او ارزونه کولی شي، چی څومره نور شنیع او غیرانساني اعمال باید تر سره کړي.

نن ټولی نارواسرمایي، نارواسرمایداري حکومتونه، سرمایداري اردو، پولیس او دبی امنیتی اداری او په کل کی ټول سرمایداري نظام په تنګاتنګ متقابل تباني کی یواځی د ځان ساتنی په څوکیداری کی ولاړ، خو په حقیقت کی په خپل منځ کی هم لکه د سپي او فقیر یوتر بله د سترګو په کسو کی تر نظر لاندی ساتي، چی که سپي موقع پیداکړه حتماً به د فقیر کند ( پیوندي تن پټی ) ته خوله اچوي او که فقیر موقع پیداکړی وه حتماً به خپل ډانګ د سپي په سر واروي او هغه وخت چی د پلار او زوي د دوئیل (تن په تن جګړه ) پایلی معلومیږي، د سرمایي نامقدس ائتلاف به د دوئیل میدان ته راووځي او لکه د ګور د چینجو په څیربه یو بل سره خوري. حال داچی دا جهان ابدي دی، الاهي نعمتونه او پیرزوینی ابدي دي او د امکاناتو او مقدراتو د پرمختیا او پراختیا په تناسب به لا کثرت او تنوع پیداکوي. نه حرص ته ضرورت شته او نه خساست ته !

خو ددی ټولو خبرو سره سره، بیا هم دوی حاضر نه دي، سرمایداري نظام، د مادي ارزشونو د بی محتوا کولو له پروسی څخه تیر شي اود« رنه دکارت » د بی مضمونه فلسفی په اقتباس، چی غوښتل یي د جهاني هندسی د تحلیلي افادی په بنیاد ټول علوم د مادي ارزشونو څخه بی محتوا او د متماتیکي فورمولبندیو په استمداد یي فورمولبندي کړي، د بی مضمونه او د مادي ارزشونو څخه بی حتوا سرمایداري نظام پلویان هم غواړي په سپینو کاغذونو، خو د ډالرو سره «سر په سر بیه لرونکوتوکو سره » خپل بی مفهومه قمار ته دوام ورکړي او سرمایداري نظام د ټولو مادي ارزشونو څخه بی محتوا او په دی ساده خبره نه پوهیږي، کله چی مادي ارزشونه نه اوسي، نو ژوند دڅه لپاره؟

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ